آریانا افغانستان آنلاین
ملی، سیاسی او ادبی ویب پاڼه
http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال ۲۰۲۱/۰۱/۰٤

# نوی کال مو مبارک شه

درنو دوستانو سلام او نوی کال مو مبارک شه. دا یوه وطنی ترانه ده. تاسو او ټولو وطنوال ته ډالی کوم. که مو خوښه شوه نشر یې کړی . مننه. کلیوال

## وطـــــني تـــــرانـه:

هـو ګـرانـه وطـنـه!

هو ګرانه وطنه، ته مو سـا یې ته مو ځان یې
ته زموږه مور، زموږه کور افغانسـتان یې
هـو ګرانه وطـنـه – هـو ګرانه وطـنـه!!

ستا کاني مو زړونه، ستا اوبه زموږه وینه ده
ستا په شنو درو کی، غزیدلی زموږ مینه ده
ته زموږ عزت، زموږ هویت زموږ ایمان یې
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګـرانه وطـنـه!!

تاکی چی اوسیږی، ټول قومونه سره ورونه دي
ته د ټولو باغ یی، دا قومونه ستا ګلونه دي
ته زموږ جنت، په دی نړی په دی جهـان یی
هـو ګـرانه وطـنـه – هـو ګـرانه وطـنـه!!

ته مونږ ته را پاتی، له پلرونو له نیکونو یی

ته کلـکه مـورچـه، د زمانــې د تاریخونو یی

ته هر یو زورګیر ته، لکه تندر د آسمان یی

هــو ګــرانه وطـنـه – هــو ګــرانه وطنه!!

تیار دی هر بچی، د هر دښمن مقابلې ته دی

ته ورته قبله یی، مخ د ټولو، دی قبلی ته دی

ته کـور د انسان، د مسلمان او د افغان یی

هــو ګــرانه وطـنـه – هــو ګــرانه وطنه!!



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوال، اینجا کلیک نمائید.